پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۷/۰۵/۱۱

# زیری: د کشتمند د تهمتونو ضد کتاب له چاپه ووت

## (پنځمه او وروستۍ برخه )

کارغه ځان لکه طاؤس ماښام کي و ښود
خو سهار یي راز څـــرګند شو له رفتاره

(د س. کلیوال له خوا د یوه دری شعر له پښتو ژباړي نه)



(په تیرو شوو برخو کي د کشتمند د څیري د لا ښه پیژندلو په موخه ، دا هم یاده سوه ، شورویانو چي کله یي د افغانستان په هکله د خپل شپاړسم جمهوریت خوبونه په اوبو کي لاهو ولیدل ، نو یي ددې هیواد د تجزیي پلان تر لاس لاندي و نیو او سلطانعلي کشتمند ته یي ددې کار د عملي کولو چاري و سپارلي . پدې اړه دا هم یاده سوه چي کشتمند څنګه دسیسه جوړه کړی وه چي د خو د اساسي قانون د لاري د هیواد د تجزیي د پاره حقوقي بنسټونه جوړ کړي . په ننګرهار کي د روسانو پلاس د یوی غربیي کورني د تول وژني په ناورین کي د انټرناسیونالیست کشتمند شرمونکی دریز هم په تیرو برخو کي په ګوته سو . همدارنګه د عینک د مسو د کان پر سر د کشتمند خاینانه معامله یاده سوه)
.

لوړي یادوني خو تول هغه څه وه چي زما (ددغو کربنو لیکوال ) د مالوماتو پر بنسټ یي د سلطانعلي کشتمند د اصلی څیرې ځیني برجسته اړخونه څرګند کړل . ددې د پاره چي په اصطلاح کاچوغه له آش نه زیاته ګرمه نشي ، ښه به خپلي خبري را لنډی کړم او اصلي موخي ته را ګرځم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

اصلي خبره خو د اکاډیمیسن ګلداد خان هغه کتاب دي چي د « ګنځ » پنامه يې د کشتمند د تورونو پر ضد ليکلي او تازه يې د لوستونکو لاس ته لاره موندلي ده . په تيرو برخو کي لوستونکو ته ددې کتاب د چاپ زيری ورکړل سو .
اوس غواړم لوستونکو ته د نوموړی کتاب د پيژندني په ترڅ کي د هغه پر منځپانګه باندي هم لږ تم سم:
د « ګنځ » د ليکلو لامل هغه تورونه او ناحقه تهمتونه وه چي سلطانعلي کشتمند د « يادداشتهای سياسي و رويداد های تاريخي » پنامه پخپل کتاب کي ليکلي او د چا خبره د خپل بام واوره يې د نورو خلګو پر بامونو ور غورځولې ده .
کله چي د کشتمند دغه کتاب له چاپه را ووت ، هغه مي ولوست او حيران پاته سوم چي د دومره اوږدو کلونو سياستوال څنګه په داسی بيځايه خبرو باندي خجالت نه باسي . کشتمند خو تل د يوه پاخه انترناسيوناليست په جامو کي پر سويتيزم باندي د يوه سر ښندونکي مين په توګه د تلويزيون پر مخ ځرګنديدی او د چاپي رسنيو مخونو به دده د وفاداريو سوګندونه ورځ تر بلي تازه کول . يوه ورځ مي استاد ګلدادخان ته چي د تورپيکي انډيوال مي دي ، تليفون وکړ او د خبرو په ترڅ کي مي د کشتمند ددغه چاپ سوي کتاب په اړه يادوونه ورته وکړه . دا چي اکاډیمیسن ګلداد خان څو کاله د کشتمند سره په يوه اداره کي کار کړي او دده کړه وړه ښه ورته مالوم دي ، ما ورڅخه غوښتنه وکړه څو د تورونو په هکله يې يو څه وليکي . دي زړه نا زړه پاته سو اود خپل عادت سره سم يې په ارامو اعصابو او نرمه لهجه راته وويل چی و به ګورو.
له دې خبرو څه ډيره موده وروسته يې يوه ورځ په تليفون کي راته وويل چي ګوره هغه ستا خبره خو مي ومنل او غواړم څه نا څه يو کرښي پرې وليکم ، مګر په دې شرط چي ته به يې په تخنيکي برخه کي د مرستي ژمنه راکوي . ما ورته وويل چي از يار يک اشاره و از ما به سر دويدن.
سر به مو څه پرله ګرځوم ، استاد ګلداد د نوموړي کتاب په ليکلو لګيا سو . کله نا کله به مو په تليفون کي د ليکلو پر بهير بحث او کيسي کولې . يوه ورځ يې راته وويل چي ډيره بده پيښه وسوه ، ما ترې وپوښتل چی خدای دي خير کړي ، څه سوی دي ؟ ده راته وويل څه چی مي ددغه يوه کال نه په زياته موده کي ليکلي او په کمپيوټر کي خوندي کړي وه ، د يوې تخنيکي ستونزي لامله ټول پاک او داسی له منځه ولاړه چي يې بيرته يې را ګرځولای نسم . ما وويل چي ياره يا د کشتمند مړي زورور دي او يا خدای ترټلي برژنيف په صداقت سره د زړه د اخلاصه پر شا ټکولی دی . ما پوښتنه ترې نه وکړه چي اوس به څه کوو . ده بيا د خپل عادت سره سم په هم هغه ډول نرمه لهجه راته وويل چي و به ګورو.
له دې وروسته مو بيا پدې اړه بحث ندي کړی ، ځکه هغه څوک چي د ليکلو سره سروکار لري ، پدې ښه پوهيږي چي دا ډول پيښه سړي څومره د ليکني څخه خواتوری کوي . هغه وو چي تير کال ( ۲۰۱۶ ) د استاد ګلداد خان يوه کليوال چي زما سره په ډنمارک کي په يوه ښار کي اوسيږي ، په تليفون کي راته وويل چي يو چا يو ښکلی سوغات درته رااليږلی دی ، غواړم چي کور ته يې در وړم . دا سوغات رښتيا هم ښکلي او دغه کتاب دي چي اوس يې په اړه په ليکلو لګيا يم.
داسی ښکاري چي استاد ګلداد د کتاب لويه برخه دوه ځلي ليکلي ده . لکه څنګّه چي مي ياده کړه ، هغه کسان چي يو وخت يې هم څه ليکلي وي ، د دويم ځل ليکلو مشقت ورته مالوم دي . دا دومره سخت کار دي لکه فرهاد چي د شيريني پخاطر د غره سوري کولو ته ملا وتړل . استاد ګلداد دا مشقت و ګالی او د شيريني تودې غيږې ( خپلي موخي ) ته يې ځان ورساوه . پر عزم او زغم دی برکت وي.
کتاب لکه په تصوير کي چي يې وينئ ، په ډير ښکلي صحافت چاپ سوی چي خامخا به يې ډيري پيسې پری لګولی وي . داځکه وايم چي پدې وروستيو کي زما څو کتابونه چاپ سول او په لګښتونو او ستونزو يې ښه خبر يم . زه پدې هم خبر يم چي استاد هلته په فنلينډ کي يو متقاعد کډوال دي او ددې ډول کسانو مياشتني حقوق يوازي دده د نوموړي مياشتي ورځنی لګښتونه پوره کولای سی او بس . زه په پوره باور ويلای سم چي ددې کتاب د لګښت پيسې به يې خامخا پور کړي وي . د بل پلو نه د کتاب خرڅول او د لګښت پوره کول يې يوه داسی ستونزه ده چي ټول ليکوالان ور سره لاس او ګريوان دي ، ځکه چي افغانان په ټوليز ډول او له بده مرغه پښتانه په ځانګړي توګه د کتاب د لوستلو سره جوړ ندي ، پر کتاب باندي پيسې ورکول ورته د قيامت نښانې ښکاري.
د کتاب پر لومړی پاڼه تر بسم الله الرحمن الرحيم وروسته د کتاب پيژندګلوي داسی سويده:
دکتاب نوم : ګنځ
ليکوال : اکاډیمیسین ګلداد خان
د چاپ نيټه: ۱۳۹۳ ل.هـ ( ۲۰۱۴ ز )
د چاپ ځاي: د ساپي پښتو څيړنو او پراختيا مرکز ـ پيښور
د چاپ شمير: ( ۱۰۰۰ ټوکه )
کتاب په اتو څپرکو ( فصلونو ) کي څه کم يو زر مخونه ( دقيق ۹۸۱ مخونه ) لری چي په ښکلي پښتو فونټ سره ليکل سوي او په لوړ کيفيت چاپ سو دی . د تورو کچه يې ماته ۱۲ يا ۱۴ ښکاري . د کتاب وروستی دوې پاڼې يې د اخستځايونو ښايسته اوږد نوملړ دي چي د خپلو يادوونو په کره کولو کي يې ورنه ګټه اخيستې ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داچي ما خپلي دغې ليکني ته (د کشتمند د تهمتونو ضد . . . ) سرليک ور کړي ، لامل يې دادی چي کشتمند پخپل ټول کتاب کي د ځانه ( کور خود ، بيناى مردم ) جوړ کړی او اصلي موخه يې د ځان صفت او د بل خفت ګرځولی ، تل يې د خپل کور کثافت د بل پر مخ پاشلی دی . د بيلګي په توګه دی د خپل کتاب په اقتصادی برخه کی د هيواد د اقتصادي وروسته پاتي والی په اړه چي استاد ګلداد هم ګوته ورته نيولي ده ، داسی ليکي : « . . . در سال ۱۹۸۰ برای حکومت از رژيم حفيظ الله امين يک اقتصاد ويران ، وضع مالي و اسعاري نا بسامان ، نظام مالياتي ناجور ، تورم بي کنترول پول بي پشتوانه ، سطح بلند قيمتها و قحطي بي لګام ، فساد مالی و اداري مزمن و در مجموع يک وضع ناهنجار اقتصادي و مالی به ارث مانده بود . من در مدت يک سال و چند ماه برغم اينکه عنوان معاون صدراعظم را داشتم ، دست به اقدامات جدی زدم تا اينکه اقتصاد کشور را از پرتګا و ورشکستګي حتمي نجات يافت . . . » . لافي هم حد او ښکرور دروا‌غ هم خپله اندازه لری . پدې کي هيڅ شک نسته چي د شوروي تر يرغل د مخه د غوړيدلي اقتصاد لافي به د کشتمند شکرورو درواغو ته ورته وي ، مګر ۱۳۵۷ کال د ډيرو کلونو وروسته يوازني کال وو چي بودجه په بشپړ ډول د پلان سره سم مصرف سوه او د توليداتو کچه تر پلان جګه وه ، سره لدې چي د هيواد په کچه د اجيرانو او مامورينو ، ورو ضابطانو او جنرالانو کوپونونه او مآکولات برابرسوه مګر تورم پولی په هغه ډول چي کشتمند يې يادوی ، اصلا شتون نه درلود . تر هغه ځايه چي په زما ياد دي ، د « وضع ناهنجار اقتصادي » پر مهال د يوه ډالر قيمت څه باندي ديرش افغانی وو چي د کشتمند د « نجات يافته اقتصاد » په وخت چي غوړيدلي اقتصاد يې بللی ، تر څلويښتو افغانيو واوښت . د بل پلو نه تر شوروي يرغل وروسته چي کشتمند يې د صدارت پر چوکی کښيناوه ، ټول کارونه مشاورينو کول او د اړتيا وړ هرڅه د رود پشان د هوا او ځمکی د لاري د شوروي څخه په وړيا توګه را رسيدل . پدې وخت کي که کشتمند هر څومره نابغه هم وای ( چي يو عادي مامور وو ) ، رول يې په اقتصادي او اداري چارو کي صفر وو . بيا نو « دست به اقدامات جدی زدم . . » اصلا مفهوم نلري او د ځان مسخره کول دي.

ده پخپل ټول کتاب کي هڅه کړي چي تر ځان د مخه نيمګړتياوو پړه پر خلقيانو په ځانګړي توګه پر حفيظ الله امين چي دي يې « رژيم امين » يادوي ، واچوي او د خپل وخت د نيګړتياوو پړه بيا د کارمل يا نجيب پر اوږو باروي . دده په وخت کي که دده په نظر کوم مثبت ټکی شتون ولري ( چي نه يې لري ) ، د هغه ابتکار بيا د ځان بولي او په هغه ډله کي چي د « دست به اقدامات جدي زدم . . . » پايله يې ګڼي.

دا لوړه خبره مشت نمونه خروار يوه وړه بيلګه ده چي را نقل مي کړه . استاد ګلداد چي دده ګنج الاکاذب کتاب يې پاڼه پر پاڼه په بشپړ دقت سره لوستی ، دده د هر درواغ په وړاندي يې د معتبرو لاسوندونو پر بنسټ غاښ ماتونکي ځواب ويلي دي . هيله ده لوستونکي نوموړي کتاب تر لاسه او وي لولي ، تر څو د کشتمند د ښکرورو درواغو په رښتيني ځوابونو باندي پوه سي . د کتاب د لوستلو مينه وال کولای سي دغه کتاب په ډنمارک کي د جان محمد داوړ څخه تر لاسه کړي . د ښاغلي داوړ صاحب د اړيکو شميره داده:

دا خبره هم د يادولو وړ بولم چي د محترم اکاډيميسين ګلداد خان په ( ګنځ ) کي ځيني اړخونه سته چي کيدلای سي د وړو نيمګړتياوو په توګه ګوته ورته و نيول سي . د بيلګي په ډول : په کتاب کي اړوندي موضوعګاني ګډوډی راغلي اود خپلي منځپانګي له مخي سره ترل سوي او اوډل سوي ندي چي دا کار لوستونکی په متمرکز کيدو کي د ستونزو سره مخامخ کوي . د بل پلو نه د کتاب ژبه هم لکه څنګه د نامه ( ګنځ ) نه يې مالوميږي ، تر لويه بريده سيمه ايزه ده او د ستندرد ليکنو سره لږ غوندي واټن لري . زه چي د لوستلو سره ډير سروکار لرم ، سره له دې هم د ( ګنځ ) په مانا پوه نسوم او د ډيرو نورو نه مي پوښتنه وکړه ، هغوی هم نه پوهيدل . په پای يوه پکتياوال راته وويل چي زموږ د سيمي خلګ ګنځ د « ډيران » يا د کثافاتو د زيرمتون په مانا کاروی . که استاد زما سره د کتاب د نامه په اړه سلامشوره کړی وای ، ما به مشوره ورکړي وای چي د خپل کتاب نوم « د کشتمند د تهمتونو خورجين » کښيږدي . په هر حال دا ډول وړي نيمګړتياوی په هيڅ ډول د کتاب رښتينی لوړ ارزښت کمولای نسي . زه ټولو هغو کسانو ته چي د وروستيو لسيزو د تاريخي پيښو سره سروکار لري ، ددغه کتاب لوستل ګټور بولم . د استاد ګلداد پر قلم او زغم دی برکت وي.

پای

ډنمارک ـ ۱۰ / ۵ / ۲۰۱۷


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ